د افغانستان اسلامي جمهوريت | جمهوری اسلامی افغانستان

د ټاکنيزو شکايتونوکميسيون | کميسيون شکايات انتخاباتی

Islamic Republic of Afghanistan

Electoral Complaints Commission

# د ټاکنيزو شکايتونو د کميسيون اعلاميه

کابل ښار: ۱۳۸۹/۶/۹

د ټاکنو د قانون د ديارلسمې مادې د لومړي فقرې د پنځم بند پر بنسټ ، د نوماندی د وړتيا د شرطونو او معيارونو څخه يو يې دادئ چې د ملکي خدماتو مامورين بايد د نوم ليکنې څخه مخکې له خپلو دندو استعفا کړې وي.

د ټاکنيزو شکايتو کميسيون د ولسي جرگې د وروستي نوملړ تر اعلان وروسته ، د هغو شکايتونو په څيړلو پيل وکړ چې ځيني محترم نوماندان په خپل وخت له خپلو دندو څخه استعفا نه وه کړې ،په پايله کې وموندل شوه چې يو شمير نوماندانو د نوم د ليکلو څخه وړاندې له خپلو دولتي دندو استعفا نه وه کړې . نو پر همدې اساس د ټاکنيزو شکايتونو کميسيون ۱۴ تنه نوماندان په خپل وخت له دولتي دندې د استعفا د نه کولو پر بنسټ د نوماندی وړ نه بولي اود ټاکنو له خپلواک کميسيون نه غواړي چې د دوی نومونه د عامه پوهاوي لپاره اعلان کړي . لرې شوي نوماندان عبارت دي له :

۱ - د بغلان ولايت له ټاکنيزې حوزې غلام سرور حباب .

۲ - د پروان ولايت له ټاکنيزې حوزې روښناخالد .

۳ - د پروان ولايت له ټاکنيزې حوزې سيدعبدالرزاق .

۴ - د پروان ولايت له ټاکنيزې حوزې عبدالحي .

۵ - د کندز ولايت له ټاکنيزې حوزې الحاج امام قل .

۶ – د پکتيا ولايت له ټاکنيزې حوزې سيمين اکبري .

۷ - د پکتيا ولايت له ټاکنيزې حوزې حی گل سليمان خيل .

۸ - د هلمند ولايت له ټاکنيزې حوزې حاجي محبوب شاه .

۹ - د هلمند ولايت له ټاکنيزې حوزې حاجي غلام حسن .

۱۰ - د کابل ولايت له ټاکنيزې حوزې استاد محمديوسف .

۱۱ - د کابل ولايت له ټاکنيزې حوزې ثريا فيضي .

۱۲ - د کابل ولايت له ټاکنيزې حوزې داکتر عبدالخليل خاکزاد.

۱۳ - د کابل ولايت له ټاکنيزې حوزې جنرال امين الله امرخيل .

۱۴ - د کابل ولایت له ټاکنیزې حوزې احسان الله بارکزي.

د یادونې وړ ده چې:

۱- له دې وړاندې هم ۲۵ تنه نوماندان چې له خپلو دولتي دندو يې په خپل وخت استعفا نه وه کړې ، د ټاکنیزو شکایتو دکمیسیون د پریکړې پر بنسټ له وروستي نوملړ څخه لرې شوي وه . د يو شمير نورو نوماندانو دوسيې چې په خپل وخت له خپلو دولتي دندو څخه د استعفا نه ورکولو په تور تورن دي تر څيړنو لاندې دي او په راتلونکو ورځو کې به ددې څيړنو وروستۍ پايلې خلکو ته اعلان شي .

۲-د ولسي جرګې د نوماندانو د لومړني او وروستي نوملړ د اعلان له پيل راهيسې هغه نوماندان چې د بيلابيلو لاملونو له وجې د نوملړ څخه ايستل شوي ۷۶تنو ته رسيږي

**د ټاکنیزو شکایتو کمیسیون**